# مرحوم مولوي غلام محی الدین خان افغان

له پښتنو پوهانو څخه او په قوم جمریانی دئ، چي تر (۱۲۹۰هـ) وروسته په کندهار کي زوکړی و، دی د خپلي کورنۍ سره په کوچنیوالي د (۱۲۹۷ هـ) په حدودو کي هند ته تللی او د پېښور په شاوخوا کي لوی سوی او هلته یې تعلیم حاصل کړی دئ، افغان هلته په پاړسو، پښتو، هندي او انګلیسي کي معلومات موندلي او د ځوانۍ پر وخت د (۱۳۲٤هـ) په حدودو کي بیرته کابل ته راغلی دئ.

پسله هغه چي دی کابل ته راغی، وطن هغه پخوانی وضعیت نه درلود، معارف موجود او مطبوعات هم لږ لږ خپاره سول، وروسته سراج الاخبار د ویښتوب ږغ پورته کړ او ځیني زلمي د وطنخواهۍ په حس وپوهېدل.

غلام محی الدین خان دا توغ پر اوږو واخیست او د بیدارۍ د منادیانو په لومړۍ ډله کي حساب سو.

د اعلیحضرت امیر حبیب الله خان په عصر کي یوه مړسسه د دارالمعلمین په نامه جوړه سوې وه او افغان د دغه ځای په مدیریت وټاکل سو، دی یو غیور او وطنخواه او روڼ فکره سړی و او په کابل کې ډېر زلمي د وطنخواهۍ په فکر وروزل. دی د خپل عصر مفکر او د تجدد محرك و، د ملیت او هیواد غوښتنو احساسات یې ډېر شدید وه او د پښتو ژبي د حیات او روزني په لومړنیو محرکینو کي شمېرل کیږي. په سراج الاخبار کي د ده پښتو منثور او منظوم آثار خپرېدل او په ملي ژبه یې خواږه اشعار ویل او تخلص یې "افغان" و، خپلو شاګردانو ته یې په وروستنیو وصایاو کي دا ویلي وه چي دوی به پښتو ژبه پالي او وروسته د ده پوهو شاګردانو دغه وصیت تر یوه ځایه پر ځای هم کړ.

افغان په ژوندانه کي بې تکلفه سړی و د ملګرو خواخوږی و د ده مسکن هر وخت د پوهانو مجمع و، شاګردانو معنوي استفادې ځني کولې، او دغه ملګري یې "اخوان افغان" بلل کېده، په مجلسو کي د ده حق او ادبي شجاعت ډېر و.

مولوي غلام محی الدین خان تر یوه اوږد ادبي او علمي جهد وروسته موفق سو چي په وطن کي ډېر فکري او علمي ملګري ومومي او د خپلو ښو افکارو په رڼا کي دماغونه منور کړي، نو ځکه د افغانستان د تجدد په حرکاتو کي لویه برخه لري.

د وطن دا محسن او خدمتګار عالم او فکور سړی په کابل کي په چهارشنبې (۲۸) د ذیقعدې (۱۳۳۹قمري) مطابق د (۱۱) د اسد (۱۳۰۰ش) کال وفات سو، او د خپلو ملګرو اخوان افغان له خوا د کابل د جبې په هدیره کي جابر انصار ته نژدې ښخ سو.

ځکه چي افغان له پښتو سره د زړه علاقه درلوده، نو د ده ملګرو د مزار لوحه په پښتو وکښله، او دا عبارات یې پر ولیکل :

"مولوي غلام محی الدین (افغان) په کندهار کي متولد سو او هلته یې د دینیات معلومات یې حاصل کړل، پس په معیت د سردار ایوب خان په راولپنډي او لاهور کي د فرار په حالت له انګرېزي مکتبو څخه جدید تعلیم یې واخیست، چي بیرته کابل ته راغی د امیر حبیب الله خان په روښان دوران کي د دارالمعلمین مدیر مقرر سو، او هغه خیالات او ارادې د اصلاح او ترقۍ د ملت چي دوولس کاله پخوا په مجلس کي د جان نثاران ملت معاقده کړي وې، د ظل الهی تر سیوري لاندي پخپله و ثمر ته ورسېدې، په دا کیف مطمئن او د عبادالله په خدمت کي داخل و، چي په اجل د وبای هیضه و خپل پروردګار ته راجع سو، دعا د اخوان افغان په یاد د هغه وطن دوستي او باوفا د زړه خېژي، چي په یار پسې تر ځان و جهان تېر وي څوك کولی سي دا هسي مشقت".

د مولوي اشعار او افکار :

مولوي نوی شاعر دئ، او افکار یې هم ټوله نوي دي، پخپلو اشعاروکي د وطن نوي اړتیاوي څرګندوي اوکله عشقي اشعار هم وایي. د مولوي د وطن د محبت سندري تودې دي او په شعرکي دکلاسیکو شعراو پیرو دئ، په خوشحال خان او رحمان بابا پسې ډېر ډېر ځي او اشعار یې متوسطه درجه لري.

لاندي یې له اشعارو څخه یو څو نمونې را اخلو چي د دې مرحوم ادیب افکار ښه وځلیږي :

بې کمال د باکمال کله همسر دئ
هم قیمت کله ګوهر سره حجر دئ
باکمال سړی په مثل د پادشاه دئ
په ظاهره که مفلس او قلندر دئ
که لباس د بې کمال وي د زریفتو
دا یې ځل دئ د حریرو هغه خر دئ
که لباس د باکمال وي دکرباسو
کمال ده لره خلعت دئ هم زېور دئ
څوك چي نه لري کمال واوره "افغانه"
که غني وي لا خو تا نه مفلس تر دئ

د رحمان بابا پر غزل مخمس

څوك چي ورك له خپل وطن وي څه به خوب کا
ستمګر چي ګلبدن وي څه به خوب کا
مبتلا چي په شیون وي څه به خوب کا
هغه څوك چي دی مین وي څه به خوب کا
چي فرهاد غوندي کوهکن وي څه په خوب کا؟

دا جهان دئ پاته تا نه هم له ما نه
د قضا چاره خو نه شي له لقمانه
څوك خو کړی نه شي علاج د مرګ دوا نه
هر نفس د سړي تله دي له دنیا نه
چي یې هر ساعت رفتن وي څه به خوب کا؟

له خوښۍ او مسرت نه خندا کېږي
په بېلتون کي خندا نه وي ژړا کېږي
خوب بستر باندي سره د اشنا کېږي
چي عاشق له خپله یاره جلا کېږي
چي د سلو شپو کړمن وي څه به خوب کا؟

بې کسي مي هرګز نه شوه غمګساره
آزاده لکه لاله یم له ګلزاره
تماشې ته مي عالم راځي بې شماره
چا ونه ویل چي له څه یې بې قراره
چي په اورکي یې وطن وي څه به خوب کا؟

سراج الاخبار - ۱۳۳٤هـ

زړه زما ډك دئ له ښې میني د وطن
خپل وطن ما ته عزیز دئ تر خپل تن
هر یو ګل مي د وطن پر ما ډېر ګران دئ
تر کشمیره، تر پاریسه، تر لندن
شېرین ځان مي په شېرین وطن فدا دئ
زه خو دا رنګه فرهاد یم کوهکن
ګلستان مي د وطن لا درکنار دئ
خارستان دئ د وطن راته ګلشن
د وطن په حمایت کي ځان مباح دئ
په دا میني کي لازم دئ سر باختن
چي د چا په سر سودا د وطن نه وي
سر د ده دئ مستحق د بریدن
چا په زړه کي چي جنون د وطن نه وي
د هغه زړه خدای همېش لري غمجن
که څه ډېر په جهان کي عزتونه
ډېر عزت دئ په خدمت کي د وطن

(سراج الاخبار _ ۱۳۳۳ هـ)

جار دي شم تر نامه راشه راشه
په هجران کي يم ناکامه راشه راشه
ځما ور د صبح و شامه راشه راشه
اې ځما د زړه آرامه راشه راشه
سر و قده ګل اندامه راشه راشه

مهجور زړه خو له فراقه زياتي چوي
په هغه باندي کول د رحم ښه وي
چي په سر يې غم غمونه ډېر پراته وي
خدازده بيا به هسي وخت وي که به نه وي
زه وېرېږم له ايامه راشه راشه

په دروغو هسي ته ولي وينا کړې
د وصال وعده همېش ته په فردا کړې
خامخا خندا په ما عاجز شيدا کړې
نن هنګام دئ که وفا کړې که جفا کړې
چاره نه شي له هنګامه راشه راشه

دا جهان کله مکان د انبساط دئ
بلکي دا د مسافرو يو رباط دئ
په هر لور کي غم موجود مفقود نشاط دئ
مبارك د دوو مينو اختلاط دئ
تله دي تله دي له جهانه راشه راشه
يخ کابل کي مي په زړه بله لمبه شوه
له فراقه مي سينه آتشکده شوه !
ما غريب لره قاتله دي عشوه شوه
شپه لا پرېږده رڼا ورځ راباندي شپه شوه
د "افغان" ماه تمامه راشه راشه[1]

(سراج الاخبار_ ١٦ ذيحجه ١٣٣٤ هـ[2])